# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## په ازبکستان کې د ظلم او تاوتريخوالي پر وړاندې د حزب التحرير کمپاين بريالی پای ته ورسېد! الحمدلله!

## (ژباړه)

د ميرزضيايف نظام د پخوانيو زندانيانو په بيا نيولو، چې د کريموف د وخت له ظلم څخه روغ وتلي وو او په اوږدمهاله بند د هغوی په محکومولو سره يې ځان د نړۍ پر وړاندې رسوا کړ او اوس ټول اسلامي امت د دغه واقعيت شاهد دی. يعنې دا چې د فلسطين په سپېڅلې خاوره کې د جنايتکار يهودي رژيم په واسطه د بې ګناه مسلمانانو په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو وينې بهېږي، بس نه دي چې هغه حکام هم دغه ځورېدلی امت د خپل خيانت په خنجر ووهي، چې ځانونه مسلمانان ګڼي. د دغه ډول ظلم او تاوتريخوالي د پای ته رسولو هېڅ نښه نشته او له هېڅ ډول منطق سره جوړ نه دی، چې په بشپړه توګه د دوی له غولوونکو ژمنو سره په ټکر کې دی.

همدارنګه د هغه قانون تصويب ته د ازبکستان د دولت تمايل چې د ځوان نسل لپاره اسلامي زده کړې منعه کوي، حجاب ته اجازه نه ورکوي، واده کول سختوي، له يوه زيات ودونه کول منعه کوي او له ټولنې څخه د اسلامي ارزښتونو د لرې کولو هڅې کوي، دا په ډاګه کوي چې دغه دولت په کوم لوري روان دی؛ د اسلام او مسلمانانو له ګټو څخه د ملاتړ پر ځای دا غوره ګڼي چې د روسيې او امريکا په څېر استعمارګران راضي کړي.

حزب التحرير د دغه ظلم او تاوتريخوالي پر وړاندې په ټوله نړۍ کې مسلمانان را پورته کېدو ته دعوت کړل او د «**وا امتا؛ هغه اواز چې په ازبکستان کې عقيدتي زندانيان يې زمزمه کوي**» تر سرليک لاندې يې يو کمپاين اعلان کړ. مسلمانان د حزب د شبابو په رهبرۍ په بېلابېلو خاورو لکه پاکستان، تونس او سويډن کې له دغه کمپاين سره يو ځای شول. د بېلګې په توګه؛ په هغه لاريون کې چې د سويډن په مرکز استکهلم کې د ازبکستان د سفارت مخې ته وشو، د ازبکستان-حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر رييس استاد اسلام ابوخليل وينا وکړه او له دولت څخه يې وغوښتل چې هغه ظلم او تاوتريخوالی بايد ودروي، چې د استعمارګرو کفارو د خوشالۍ لپاره يې روان کړی او همداراز له اسلام او مسلمان ضد سياست څخه بايد ځان وساتي.

د اوکراين-حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر رييس فضل امزايف په مشرۍ يو پلاوی د ۲۰۲۴م د جولای په ۲۳مه چې د ۱۴۴۶هـ د محرم له ۱۷مې سره سمه ده، په کييف کې د ازبکستان سفارت ته لاړ چې خپل اعتراض‌ليک ورکړي. همدارنګه د الماني ژبو هېوادونو-حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر استازي انجينير شاکر عاصم په مشرۍ يو پلاوی د ۲۰۲۴م د جولای په ۱۷مه چې د ۱۴۴۶هـ د محرم له ۱۱مې سره سمه ده، په ويين کې د ازبکستان سفارت ته لاړ، چې اعتراض ليک ورته وسپاري. د دغه پلاوي مشر د سفارت مسول ته حزب معرفي کړ او زياته يې کړه چې حزب‌التحرير يو فکري او سياسي حزب

دی او په هېڅ فزیکي فعالیت کې لاس نه لري. برعکس خپل هدف ته د رسېدو لپاره حزب د وسیلې په توګه له تاوتریخوالي ګټه اخیستل ردوي او په اسلامي خاورو کې د نبوت پر منهج د راشده خلافت د تاسیس لپاره پرله‌پسې هڅې کوي.

پر همدغه اساس دا یوه لویه تېروتنه ده، چې د ازبکستان دولت د روسیې په څېر د استعماري دولتونو د راضي کولو لپاره حزب‌التحریر د یوه ترهګریز سازمان په توګه ډلبندي کوي. همدارنګه دا یو ناوړه عمل دی، چې د حزب له غړو څخه دې له بیاځلي نیولو وروسته د دروغو او اجباري اعتراف واخیستل شي او هغوی دې د ژمن‌لیک لاسلیکولو ته اړ ایستل شي او د نه لاسلیک په صورت کې وګواښل شي، چې د دوی پر مېرمنو به تېری وشي او اولادونه به یې بندي کړل شي.

د دغه کمپاین د یوې برخې په توګه یو شمېر مقالې هم خپرې شوې، چې د ازبکستان پر سیمه‌ییزو رسنیو یې د دې لپاره نیوکې وکړې، چې د دولت ظلم او زیاتي ته پاملرنه نه کوي او د دولت سرې کرښې نه شي ماتولی. همداراز د ازبکستان اړوند ځینې بهرنۍ رسنۍ هم په دغو مقالو کې یادې شوې وې.

همدارنګه د ازبکستان په قضایي نظام کې د اصلاحاتو پر اعلان سربېره، دغه نظام د امنیتي دستګاوو تر اغېز لاندې دی؛ لکه څنګه چې د تېر ظالم نظام په وخت کې و او دا موضوع د یو شمېر مقالو له لارې مسلمانو خلکو ته څرګنده شوې ده. همدارنګه د محکمې د حکم له متن سره سم چې د جولای په ۱۵مه ولوستل شو، په ۲۳ کسانو کې چې ډېرو یې لوړې زده کړې درلودې او هره یوه یې لږترلږه ۳ اولادونه درلودل، دغه ځوانان "ډېر خطرناک جنایتکاران" یاد شوي دي! په داسې حال کې چې واقعیت داسې نه دی؛ دغه ځوانان په خلکو کې د نېکو او متقي کسانو په توګه پېژندل کېږي، چې د هېچا په حق کې خیانت نه کوي او یوازې د خپلې خاورې او خلکو ګټې ته اهمیت ورکوي او د خلکو سلامتیا او ګټې ته پر خپلې سلامتیا او ګټه لومړیتوب ورکوي.

هو، په ازبکستان کې بې‌پرې خلکو له دغه کمپاین څخه د ظلم او تاوتریخوالي د سیاستونو پر وړاندې ملاتړ وکړ. دا چاره ځکه د تایید وړ ده چې تصوري او صوتي مواد، مقالې، په ژوندۍ او غیر ژوندۍ بڼه د دغه کمپاین په چوکاټ کې وېشل شوي دي، چې د زرګونو کسانو لخوا لیدل شوي او د سلګونو نورو کسانو لخوا تایید شوي دي. خو ځینې ناپوهان شته چې د الله سبحانه وتعالی دا خبره د دوی په حق کې صدق کوي، چې فرمایي:

﴿**أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ**﴾ [اعراف: ۱۷۹]

**ژباړه:** *«هغوی د څارویو په شان دي، بلکې له هغو هم بدتر! دا هغه خلک دي چې په غفلت کې لوېدلي دي (د هدایت له ټولو امکاناتو سربېره بیا هم ګمراه دي)!»*

په پای کې باید پام وکړو، چې هر وخت یوه قدرت د ظلم لاره ونیوله، هغه به کمزوری او له منځه لاړ شي. تاریخ په خپلو پاڼو کې د دغه ډول حکومتونو ډېرې بېلګې لري او پخپله د کریموف تېر نظام پر دې ښکاره شاهد دی؛ ځکه د خلکو پر

وړاندې د ظلم او زياتي سياست يوازې د دې ښکارندويي کوي، چې حکومت کمزورى دى او له خپلو خلکو وېرېږي او د دغو حکامو د پاتې کېدو يوازينى هيله د دوى باداران دي.

برعکس غښتلى حکومت د خپلو خلکو ملاتړ او محبت په خپلو لوړو ځانګړتياوو لکه؛ له مظلوم څخه ملاتړ، د ظالم مخنيوى، د دښمن او دوست تر منځ توپير او د دښمن پر وړاندې په زړورتيا سره په لاس راوړي. اسلامي امت نن ورځ په ډېرې بې‌صبرى سره دغه ډول راشده حکامو ته په تمه دى او شپه و ورځ دعا کوي چې د نبوت پر منهج خلافت دوران را ورسېږي؛ ځکه د الله سبحانه وتعالى ژمنه حق ده او هغه دعاګانې قبلوي، ان که يو څه وخت وروسته هم وي او خپلو بندګانو ته نصرت او توانايي ورکوي!

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ۝ بِنَصْرِ اللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾** [روم: ۵-۴]

**ژباړه:** *«او په هغې ورځ به مومنان (د بلې بريا له امله) د الله د مرستې په سبب خوشاله شي؛ هغه چې هر څوک وغواړي مرسته ورسره کوي او هغه برلاسى او پوره رحم لرونکى دى.»*

**د حزب التحرير - ازبکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱/۱۴۴۶**

**۱۴۴۶هـ.د محرم ۲۱مه**

**۲۰۲۴م د جولاى ۲۷مه**

**ژباړن: منصور**